# مُرُوا أولادكمِ بالصلاةِ وهم أبناءُ سبعِ سِنينَ، واضرِبوهم عليها وهم أبناءُ عَشرٍ، وفرِّقوا بينهم في المَضاجِعِ». «خپلو اولادونو ته په اووه کلنۍ کې په لمانځه امر وکړئ، او (د نه کولو په صورت کې يې پرې ووهئ) کله چې لسو کلونو ته ورسيږي، او د خوب ځايونه يې سره جلا کړئ

له عمرو بن شعيب رضي الله عنه څخه روايت دى هغه له خپل پلار او هغه له خپل نيکه څخه روايت کوي وايې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «مُرُوا أولادكمِ بالصلاةِ وهم أبناءُ سبعِ سِنينَ، واضرِبوهم عليها وهم أبناءُ عَشرٍ، وفرِّقوا بينهم في المَضاجِعِ». «خپلو اولادونو ته په اووه کلنۍ کې په لمانځه امر وکړئ، او (د نه کولو په صورت کې يې پرې ووهئ) کله چې لسو کلونو ته ورسيږي، او د خوب ځايونه يې سره جلا کړئ».
[حسن] [ابوداود روايت کړى دى]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې پلار بايد خپلو - نارينه او ښځينه و -اولادونو ته په لمانځه امر وکړي کله چې اووه کلن شي او دا چې هغه کارونه وروښايي چې د لمانځه کولو لپاره ورته اړتيا لري. او کله چې لس کلنۍ ته ورسيږي، خبره يې نوره هم زياته کړې ده، هغه دا چې وهي به يې کله چې په لمانځه کې کوتاهي وکړي، او دا چې د خوب ځايونه يې سره جلا شي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5272

ALNAJAT CHARITY النجاة الخيرية
لجنة الدعوة الإلكترونية EDC E-Da'wah Committee